مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د اگسټ ۱۰مه | ۷۶۰مه گڼه

# د ولایتونو پرله پسې سقوط او د حکومت چوپتیا؛

## طالبانو په تېرو څو ورځو کې د شپږو ولایتونو مرکزونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي





بریا؛ د ښارونو د ویجاړۍ او تباهۍ په بیه — ۲ مخ

موج خونین بازی های نیابتی و سرنوشت نامعلوم مردم افغانستان! — ۲ مخ

له کابله تر هراته د خیال په نیلي — ۳ مخ


## یونیسف: د افغان ماشومانو پر وړاندې روان تاوتریخوالی تکان ورکوونکی دی

د ماشومانو د ملاتړ په برخه کې د ملګرو ملتونو صندوق یا یونیسف وايي، چې په وروستیو څلورو ورځو کې په درې ولایتونو کې د تاوتریخوالي له امله له ۲۰ زیات افغان ماشومان وژل شوي او ۱۳۰ نور ټپیان شوي دي. یونیسف پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي، چې افغان ماشومانو ته دغه مرګ ژوبله په کندهار، خوست او پکتیا ولایتونو کې اوښتې ده. یادې ادارې په افغانستان کې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی تکان ورکوونکی بللی دی.

یونیسف ویلي، چې د ماشومانو د خوندیتوب حقوق په افغانستان کې د ښکېلو لورو له خوا له پامه غورځول شوي دي. یونیسف د اندېښنې په ښودلو سره ویلي، چې اوسمهال په افغانستان کې ماشومان له ښکاره تاوتریخوالي سره مخ دي.

یادې ادارې د هغو راپورونو په اړه هم اندېښنه ښودلې، چې افغان ماشومان د وسله والو ډلو له خوا د جګړو په لیکو کې ګومارل کیږي. د دې په خبره، د جګړې په زیاتېدو سره د افغان ماشومانو حقوق تر پښو لاندې کېږي او راتلونکی یې له خطر سره مخ کوي.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ برخې صندوق د ماشومانو د حقوق د تامین لپاره په یاد هېواد کې د سولې پر تامین ټینګار کړی او د سولې د مرکچي پلاوو څخه غوښتي چې د ماشومانو حقوقو ته پاملرنه وکړي.

## کډوالو چارو وزارت: په تېرو ۱۵ ورځو کې د سختو جګړو له کبله ۵۳۰۰ کورنۍ بې ځایه شوي



۲ مخ

## د امریکا او پاکستان نوې ملګرتیا؛

### امریکا د پاکستان هوايي حریم له لارې پر افغان خاوره بمبارۍ کوي



امریکايي ځواکونه په افغانستان کې د هوايي بریدونو لپاره د پاکستان هوايي حریم کاروي. د راپورونو له مخې، په وروستیو کې امریکايي بي ۵۲ الوتکو په افغانستان کې هوايي بریدونه کړي، خو دا چې دغه الوتکې د ایران له هوايي حریم نه شي، تېرېدلی نو ځکه د پاکستان له هوايي حریم په استفادې په افغانستان کې هوايي بریدونه کوي. سپوټنیک د ځینو سرچینو او نړیوالو پلټنو پر بنسټ ویلي، چې وروستیو الوتکو چې په هلمند او بغلان کې هوايي بریدونه کړي، د پاکستاني حکومت په اجازه د بلوچستان له لارې افغانستان ته ننوتلې دي. سرچینه کاږي چې امریکا او پاکستان له ۲۰۰۴ز کال راهیسې د هوايي حریم د استفادې په تړاو هوکړه لري، چې تر نن پورې عملي کېږي. بلخوا ځینو پاکستاني څېړونکو پر پاکستان نیوکه کړې چې له یوې خوا له امریکا سره په جګړه کې د نه مرستې خبره کوي او له بلې خوا په خپل هوايي حریم کې د هوايي بریدونو لپاره د امریکا الوتکو ته د تېرېدو اجازه ورکوي. دوی خبرداری ورکړی چې د عمران خان د حکومت دغه چلند او دوه مخیتوب به نه یوازې په پاکستان کې، بلکې په ټوله سیمه کې غبرګونونه له ځان سره ولري.

## ځېره

۴ مخ

### ډاکتر عبدالوکیل خان

عبدالوکیل خان د کرنې سکټور په برخه کې د کړو خدمتونو له امله د ټولو افغانانو په زړونو کې ځانګړی ځای لري او د نوموړي د کړو خدمتونو ستاینه کوي.



## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د سویابینو ۴۲۰ نندارېزې کروندې جوړېږي



د کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي چې د روان مالي کال په ترخ کې به د سویابینو ۴۲۰ نندارېزې کروندې جوړې شي. د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي وايي چې دا کروندې د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې جوړېږي. د نوموړي په خبره، په ټولیزه توګه د دغو نندارېزو کروندو د جوړولو چارې نږدې په بشپړېدو دي او له دې شمېر د هرات، پکتیا، ننګرهار، کاپیسا، بغلان، بلخ، جوزجان او فاریاب په ولایتونو کې د ۲۱ نندارېزو کروندو چارې بشپړې شوې دي.

یادې کروندې په داسې حال کې جوړېږي، چې په هغو ولایتونو کې چې د یاد نبات تولید لپاره مناسب اقلیمي شرایط لري، د تولید کچه یې کال تر بله زیاتېږي.

د کرنې وزارت، د معلوماتو او احصایې ریاست د چارواکو په خبره، د سویابینو کښت د هېواد په اکثره ولایتونو کې ښه پایله ورکړې ده.

کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### بریا؛ د ښارونو د ویجاړۍ او تباهۍ په بیه

لا هم د شاوخوا لسو ولایتونو په مرکزونو کې جګړه روانه ده، ځینې ښارونه د طالبانو لاس ته لوېدلي، په ځینو کې کوځه په کوځه جګړه روانه ده. ښارونه هم د ځمکې او هم د هوا له لارې تر اور لاندې دي. د خلکو کورونه نړېږي، دوکانونه او مارکېټونه سوځېږي. روغتون، ښوونځی، جومات، پوهنتون او بل هېڅ ځای خوندي نه دی. خلک په خپلو کورونو کې بند پاتې دي او ان ځینې خلک دومره موقع نه لري چې مړي خښ کړي او د ټپیانو درملنه وکړي. په ښارونو کې دا جګړه پراخېږي او نوو ښارونو ته غځېږي. طالبان د نوو ښارونو د لاندې کولو هڅه کوي او جګړه ښار ته لېږدوي او حکومت هم د ځمکې او هوا له لارې په ښارونو کې د طالبانو د ماتولو هڅه کوي. دواړه لوري په ښارونو کې جګړې ته د بریا او ماتې له زاویې ګوري. که طالبان په زور او جګړې ښارونه نیسي، بریا یې ګڼي او که حکومت د بمبارۍ او د جګړې له لارې ښارونه بېرته نیسي، د طالبانو ماتې او خپله بریا یې ګڼي. دواړه لوري هېروي چې د ښار د ورانۍ او ویجاړۍ په بیه بریا هېڅ مانا نه لري. که طالبان ښار ونیسي، خو ښار ړنګ شوی وي، دوکانونه او مارکېټونه سوځېدلي وي او عامه شتمنۍ لوټل شوې وي، نو دې ته څنګه بریا ویل کېدای شي!؟ که حکومت په ښارونو کې طالبان ماتوي او یا هم بېرته په زور او بمبارۍ ښارونه نیسي، نو د سوځېدلو او ویجاړو شوو ښارونو نیولو ته څه ډول د بریا نوم ورکول کېدای شي!؟ د ښارونو د سوځېدو، ویجاړۍ، تباهۍ او د ښاریانو د ژوند په بیه د ښار نیول په هېڅ ډول بریا نه ګڼل کېږي. دا یوازې یو ضد دی، یو انتقام دی، په هر قیمت د مقابل لوري د ماتولو هڅه ده، چې نه پکې ارزښتونو او اصولو ته پام کېږي او نه پکې هم د خلکو ژوند، مال او وینې ته ارزښت ورکول کېږي. دا ضد او انتقام په واقعیت کې هېڅ ډول بریا نه لري، یوازې هېواد پکې ورانېږي، ولس پکې تباه کېږي او لاملین یې د خلکو له سترګو لوېږي. که څوک په سوځول شوو او نړول شوو ښارونو او معیوب شوو انسانانو، یتیم شوو ماشومانو، کونډو شوو مېرمنو او ځپل شوو انسانانو واکمني غواړي او دا ورته بریا ښکاري، نو هغوی تېروتي دي او هېڅ ډول اصول او ارزښتونه له دې لارې د واکمنۍ دوام او یا واک ته رسېدل نه شي توجیه کولی.

د جګړې دواړه لوري باید درک کړي چې د بریا او د یو بل د ماتولو دا هڅې د ولس او هېواد د ماتولو هڅې دي. دا نه خلک غواړي او نه هم د افغانستان په ګټه دي. نو له همدې امله دې د خندونو او ستونزو له جوړولو تېر شي، پر سوله او سیاسي جوړجاړي دې تمرکز وکړي، ژر تر ژره دې خبرې پیل کړي او یوې پایلې ته دې ورسیږي. واقعي بریا، د خلکو د خوښۍ بریا او د افغانستان او افغانانو د عزت د خوندي کولو لپاره مناسبه بریا د سولې او سیاسي جوړجاړي له لارې ممکنه ده او دواړه اړخونه باید پر همدې تمرکز وکړي.

# موج خونین بازی های نیابتی و سرنوشت نامعلوم مردم افغانستان!

محمد طارق صابر

جنگ به شهرهای بزرگ رسیده؛ طالبان در صدد سقوط مراکز شهرها می‌باشند. نیروهای امنیتی و دفاعی حملات زمینی و هوایی را بر این گروه انجام می‌دهند و دولت بخاطر حمایت از نیروها در حال بسیج مردمی است.

صدها هزار خانواده بی‌جا شده و تلفات ملکی نیز افزایش یافته است.

در کنار پیکار نظامی، تبلیغات و ادبیات جنگ از سویی طالبان و حکومت نیز وارد میدان شده و بالای پروسه صلح سایه افگنده است.

سفارت امریکا و بریتانیا خواستار آتش بس شده و طالبان را ناقضین حقوق بشر و مجرمین جنگی خوانده است.

در طول مذاکرات یک ساله بین طالبان و حکومت که فعلاً متوقف شده، شدت جنگ بی پشینه بوده و طالب‌ها نخست به سقوط ولسوالی ها مبادرت ورزیدند و حال به شمول بنادر در پی تصرف مراکز شهرهای بزرگ می‌باشند.

دولت امریکا بمبارد هوایی را دوباره آغاز نموده و مناطق جنگی به وحشت سرا و ویرانه مبدل شده است.

از سویی هم رئیس جمهور بایدن گفته است که جنگ راه حل نیست و هر دو طرف باید به میز مذاکرات باز گردد.

بعد از توافق نامه امریکا و طالبان در دوحه همه خوشبین بودند که جنگ کاهش می‌یابد و منجر به صلح می‌شود. حال شدت جنگ همه را نگران کرده است و از تکرار تاریخ هراس دارند. سقوط پی در پی ولسوالی ها و جنگ در مراکز شهرهای بزرگ تصادفی نیست و پالیسی از قبل آماده شده به نظر می رسد.

امریکا از پلان طالبان قبلاً آگاه بوده و در اوایل حملات و فشارهای سیاسی را بر این گروه انجام نمی داد. حال حملات هوایی را هم انجام می دهد وگزینه فشار سیاسی را نیز در دست دارد. امریکا می خواهد مراکز شهرها در اختیار حکومت افغانستان و ولسوالی ها تحت تسلط طالبان باشد.

به همین دلیل جنگ جاری برنده ندارد و اوضاع باید پیچیده و مغلق گردد، تا بازی های نیابتی به پیش برود.

اگر یک طرف مطلق پیروز شود، جنگ خاتمه می یابد و با ختم آن بازی های نیابتی نیر به پایان می رسد. حکومت و طالبان روی جنگ متمرکز اند و فضاء را به بازی های نیابتی آماده ساخته است.

امریکا ضرورت دارد به کشورهای آسیایی میانه برسد و از افغانستان به‌حیث تخته خیز استفاده می‌کند.

گزینه امریکا ناامنی بیشتر است و افغانستان ناامن برای امریکا بهتر از افغانستان امن می باشد. ناامنی چین و روسیه را به چالش می‌کشد و برای منفعت های امریکا از عناصر مهم شمرده می‌شود.

به حکومت و طالبان لازم است که دوباره گفتگوها را آغاز نماید و دست کشورهای منطقه و جهان را از سرنوشت مردم افغانستان کوتاه کند.

در پروسه صلح مستقل وارد میدان شوند و به یک توافق برسند که قابل قبول برای هر دو طرف، احزاب سیاسی و مردم باشد.

این چنین عملکرد به قربانی ضرورت دارد که فعلاً دیده نمی شود. با جنگ؛ جنگ از بین نمی رود بلکه شدید می شود و سرنوشت افغانستان را به سوریه‌ی دومی مبدل می سازد.

خلق فاجعه که فعلاً هر دو جناح در آن شریک اند افغانستان را به یک فاجعه خطرناک داخل می‌کند و عواقب ننگین دارد و جوی خون مردم مظلوم افغانستان را به دستان خود و امریکا جاری کرده است. فرار مغزها که افغانستان به آن نیازمند است، گرسنگی، قیمت مواد اولیه و افزایش امراض روانی علت‌های جنگ است که به مردم بی مفهوم و کُشنده است و به هر دو طرف حفظ قدرت و کسب آن باشد.

# سولې وزارت: د افغان سولې په تړاو به نن دري ورځنۍ مهمه غونډه پیل شي

د سولې په چارو کې د دولت وزارت چارواکي وایي، چې د افغان سولې په تړاو به نن د قطر په کوربه‌توب او د ملګرو ملتونو او د امریکا د متحده ایالتونو په همکارۍ په دوحه کې یوه دري ورځنۍ غونډه وشي.

د دغه وزارت ویانده نجیبه انوري وایي چې دغه غونډه نن پیلېږي او درې ورځې به دوام وکړي. د نوموړې په خبره، په دې غونډه کې به د افغانستان د حکومت په استازیتوب د مصالحې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکي هیات رییس معصوم ستانکزی او د سولې په چارو کې د دولت وزیر سید سعادت منصور نادري ګډون وکړي. ویل کېږي چې په دې



غونډه کې به د طالبانو استازي هم برخه واخلي. انوري زیاتوي: «دغه غونډه د افغانستان په سوله کې د ښکېلو هېوادونو سره د هماهنګۍ، د سولې د مذاکراتو د چټکولو او په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي د بندېدو په موخه جوړېږي.» دا په داسې حال کې ده، چې په دې وروستیو کې د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې د طالبانو د بریدونو په زیاتېدو سره د سولې بهیر په ټپه درېدلی او له څو اونیو راهیسې د دواړو اړخونو پلاوو سره نه دي کتلي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د ډلې د پلاوو وروستۍ لیدنه کتنه چې مصالحې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله او یو شمیر افغان سیاستوالو پکې برخه درلوده، چې د جولای په ۱۸ او ۱۹ په قطر کې وشوه.

د دې غونډې په پای کې د دواړو لورو پلاوو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه او د سولې د مذاکراتو په چټکوالي او تداوم یې ټینګار وکړ. دواړو خواوو دغه راز ژمنه کړې وه، چې د افغانستان د زېربناوو د تخریب او د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی به کوي.

# کډوالو چارو وزارت: په تېرو ۱۵ ورځو کې د سختو جګړو له کبله ۵۳۰۰ کورنۍ بې ځایه شوي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وایي، چې په یو شمېر ولایتونو کې د طالبانو د بریدونو تر زیاتېدو وروسته زرګونه کسان له خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي. د دغه وزارت مرستیال ویاند محمد رضا باهر وایي چې یوازې په تېرو ۱۵ ورځو کې شاوخوا ۵۳۰۰کورنۍ له خپلو اصلي سیمو څخه وتلي دي. نوموړي زیاته کړې، چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي په زیاتېدو سره، په ځینو ولایتونو کې بېځایه شوو کورنیو ته د مرستې رسولو بهیر هم درېدلی دی.

هغه زیاته کړې: «د تاوتریخوالي زیاتوالی او په ځانګړي ډول د یو شمېر ولایتونو په مرکزونو کې جګړې بېځایه شوو کورنیو ته د مرستې رسولو بهیر بند کړی دی... په دغه اونۍ کې تخار، سرپل، جوزجان او کندز کې د مرستې رسولو بهیر بند شوی دی.» د یاد وزارت د



معلوماتو په اساس، د ۱۴۰۰ لمریز کال له پیل څخه بیا تر دې مهاله ۵۷زره کورنۍ له خپلو سیمو بېځایه شوي چې څه باندې ۳۵زره یې په ننګرهار، کونړ، کندز، هلمند او کندهار ولایتونو کې دي. د دغه وزارت مرستیال ویاند زیاتوي، چې په ځینو ولایتونو کې له بېځایه شوو کورنیو سره د مرستې لړۍ روانه ده چې تر دې مهاله زرګونو کسانو ته مرستې رسېدلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې وسله والو طالبانو د یو شمېر ولایتونو پر مرکزونو بریدونه زیات کړي چې د چارواکو په وینا، د زرګونو کسانو د بېځایه کېدو لامل شوي. د نیمروز زرنج، د جوزجان شبرغان، سرپل، کندز، تالقان او ایبک هغه ښارونه دي، چې د چارواکو په وینا، د طالبانو لاسته لوېدلي او د یادو ښارونو په ځینو سیمو کې د طالبانو پر ضد د افغان ځواکونو عملیات روان دي. په یادو ښارونو کې د جګړو له زیاتېدو سره ویل کېږي، چې په کندز، سرپل او جوزجان کې دکانونه تړل شوي دي.

له دې سره جوخت وسله والو طالبانو د یو شمېر نورو ولایتونو پر مرکزونو هم خپلو ډله ییزو بریدونو ته زور ورکړی، چې د چارواکو په خبره، دغه بریدونه یې په شا تمبولي دي.

# له کابله تر هراته د خیال په نیلي

لیکنه: عبدالوحید وحید

د خیال نیلی مې زین او د هوا په اوږه والوتم. د خپل هېواد د ښکلا ننداره مې وکړه. ښکلې هوا او زړه راښکونکي سیندونه لري. زرخېزه ځمکو ته خوشحاله شوم، خو خلکو بیا هم ویل چې وچکالي ده. ولسونو د فقر له کرښې لاندې ژوند کاوه. په هره سیمه، هر کلي او هر ښار کې حالت ماتمي وو. ژړاګانې، فریادونه او واویلا وه. هلته یوه اوږده مجهوله، مرموزه او پېچلې نیابتي جګړه ځو لسیزې وړاندې پیل شوې او لاهم روانه وه. ځوانانو سوله نه پېژنده، له خندا سره یې بلدیت نه درلود. په دښتو کې میلې نه وې، د چنارو لاندې باندارونه نه وو. ګودرونه او په ګودر کې د پېغلو د منګوټو کتارونه نه وو. خندا نه وه او سندرې نه وې.

د غره په لمن کې د کوچیانو کیږدۍ نه وې، غټې رمې او شپانه نه وو. هغه پخوانی له ستورو ډک تک شین اسمان نه و. د شپې پر مهال په سپینه سپوږمۍ کې د شپانه د شپېلۍ ساز نه تر غوږه کېده. د مېږو د سرکښ د ګونګړي د شرنګهار ساز غږ نه تر غوږو کېده. د اوبو ځوږ او د ونو د پاڼو موسیقي او اواز نه اورېدل کېده. ډول غږ او اتڼ نه و.

د وردګو د سالارو په سیمه تېرېدم، باغونه وو، میوې وې، خو هاغه پخواني خوړنځایونه، د مسافرو ځوږ او شور نه وو. د ناهیلۍ په حال کې مې الوت ته دوام ورکړ. په کلیو کې ځوانان نه وو. خبرې کېدې چې هغه ځوان د ایران عسکرو سیند ته واچاوه، هغه نور یې په واوره کې ووژل، هغه نور د ترکیې په پوله پراته دي، نور یې انساني قاچاقبرانو برمته کړي دي او ځینې د جګړو په لیکو له یو او بل لوري سره په خپلمنځي جګړو کې لتاړ وو. پلونه او پلچکونه ویجاړ او سړکونه ټوټه ټوټه وو. د خپل ولس په ماتمي حالت مې وژړل او الوت ته مې دوام ورکړ.

د غزني په هوا کې تم شوم. ما ویل د بهلول، سنایي، غزنوي او نورو اتلانو زیارتونه به وکړم، خو لاندې خلک له ټوپکو، راکټونو او پیکاوو سره ګرځېدل. په شلګر، اندړو او واغظ را وڅرخیدم. هغه ډول، اتڼونه او د اندړو سندرې نه وې. یوازې د باروتو د اور اوازونه تر غوږو کېدل. کنډوالې وې، ویجاړ ښوونځي، سوځېدلي کلینیکونه او کنډ کپر سړکونه وو. هغه څه مې ولیدل چې په هیڅ ډول د یوې اسلامي متمدنې ټولنې ننداره یې نه وړاندې کوله.

د ولس فریاد ته غوږ شوم. په جګړه کې د یوه وژل شوي ځوان مورکۍ د خپل چیت پیت صندوق سر پرانیستی و. په ګوتو باندې جوړه شوې غاړه یې راپورته کړه. په چیغو چیغو کې یې وویل زویه! زما د کونډتوب د ناکراره ژوند ټوله هیله او امید خو ستا ځواني لیدل، تا ته ناوې راوړل او په واده کې د سندرې ویل وو. غوښتل مې چې د واده په ورځ دغه غاړه ستا په تن کې ووینم. بس رب به زما په برخه همدغه د تیارو ژوند لیکلی و. زویه تا هم لکه د پلار په شان نیمه خوا پرېښودم. پلار خو بیا هم ته راته پرېښودې تا راته څوک پرېښودل؟ داسې ښکاري چې له پلار سره دې په تر سره کړې ژمنه کې پاتې راغلم. له ټول احتیاج، زحمت، پردۍ مزدورۍ او د خلکو خبرې مې وزغملې؛ خو ته مې ولې د جګړو له دغه سوځوونکي اور څخه ونشوای ژغورلای؟ اوس به پاتې عمر ستا له دغه غاړې سره تېروم.

د سړک تر غاړه ناست یو ځوان ته چې دوه ماشومان هم ورسره وو، ودرېدم. پوښتنه مې ورڅخه وکړه چې ماشومان چیرته؟ هغه راته کیسه پیل کړه، وایې دواړه مې زامن دي، زه د چا دهقاني کوم، دوی له ځان سره هره ورځ هلته بیایم، مور یې څو کاله مخکې د ورور ناوې راوړه چې په موټر یې ماین وچاودېده، په موټر کې ټول ناست کسان شهیدان شول، د پېژندګلوۍ نه وو، زما د مېرمنې یو لاس مو وپېژانده، هغه هم له لستوڼي راته معلوم شو چې زما میرمن ده. کور کې څوک نه لرم، اولادونه مې وېرېږي، نو له ځان سره یې ځمکو ته راولم.

والوتم کندهار ته، په ارغنداب کې میلې نه وې، غېږې ایستل نه وو. سندرې اتڼونه نه وو. بس هره خوا چیغې، سلګۍ، اسویلي، آهونه او ماتمونه وو. په یوه کنډواله کې میشت یو فامیل ته ښکته شوم. ماشومان یې وږي وو. له مورکۍ څخه یې ډوډۍ غوښته. پلار یې له کلي څخه د راوتلو پر مهال په ښي مټ د هاوان چره خوړلې وه. میرمن یې ورته د لاس ببوزۍ (پکه) واهه. د کنډوالې په سر یې یو زوړ ترپال اچولی و چې له ګرمۍ څخه ځان وساتي. دغې تورسرې ته د نجات پرېښته ښکاره شوم، خو متأسفانه ما هیڅ مرسته ورسره نشوای کولای. یوازې اوښکې مې ورسره توی کړې. زخمي ځوان راویښ شو. راڅخه یې وپوښتل، طالبان کوم ځای ته رارسېدلي دي؟ حکومت به زما د مات لاس درملنه وکړي؟ زمونږ د کور احوال به څوک راوړي چې د هاوان مرمۍ کومه خونه ونړوله؟ سوله به کله راځي؟

د هلمند په لوري مې الوت ته دوام ورکړ. هلمند کې د ټوپکو، باروتو، نشه‌یي توکو او وسلو مارکېټونه ښه ګرم وو. ښوونځي، روغتونونه، کلینیکونه او سړکونه نه وو. یوازې د لښکرګاه ښار لږ غوندې جوړ و، خو هلته هم جګړو زور اخیستی و. په هلمند کې غټه بوختیا جګړه وه، د مړو جسدونه خښول وو، تابوتان وو او د هجرت لړۍ وه. هر څوک له خپل فامیل سره ځینې لا پښې یبلي له کورونو څخه په تېښته وو. څوک روان وو، څوک په ورانو ویجاړو ښوونځیو او څوک هم په دښتو کې پراته وو. د غمونو سیلۍ را الوتې وه. د بورو میندو، کونډو خویندو او یتیمانو فریادونه وو. د سړک په منځ کې د وژل شوي ماشوم مورکۍ ته مې لږ ساه واخیسته. دغه مورکۍ هیڅ خبرې نه کولې. خلکو ویل چې زبون وهلې شوې ده، خو ما ته داسې ښکارېده چې په ټول انسانیت باندې یې باور له لاسه ورکړی و. په تندي باندې یې ډېرې پوښتنې وې، خو په ما کې یې د لوستلو انرژي نه وه. سترګې مې ورڅخه واړولې.

په لښکرګاه کې داسې ړنده جګړه روانه وه چې نه روغتون خوندي وو، نه روزنتون، نه پوهنتون خوندي و، نه مېلمستون. دواړو خواوو په ملکي ځایونو کې د خپلو متو زور سره معلوماوه. په سیمه کې پاتې فامیلونو ته مسلسل خبرداری ورکول کېده چې د پراخو جنګي عملیاتو له پیل څخه مخکې دې ژر تر ژره خپل کورونه پرېږدي.

د تاریخي هرات ننداره مې وکړه. هرات مې جګړو ځپلی و، شهیدانو ته مې لاسونه پورته کړل. د حال په ژبه یې پوه کړم چې د هغوی توی شوې وینه به سولې ته لاره پرانیزي. د هغوی ارواګانې به د سولې نعتونه وایي. د هغوی مات شوي هډوکي به هرات بیرته ورغوي او د هغوی د یادونو څلي به نور هم هسک او ځلاند شي. هرات مې هغه پخوانۍ ښکلا بایللې وه. د خلکو په زړونو کې هغه پخوانۍ مینه نه وه. دښمن څه چې په دوست یې باور بایللی و.

د هېواد په ترینګلي حالت، د خپل ملت په مرګوني وضعیت، د چارواکو په بې حسۍ او خپله بېوسۍ مې سلګۍ ووهلې، اوښکې مې وبهولې او را والوتم کابل ته. په کابل کې د هېواد په لر او بر کې روان ناورین ته د سیاست له کړکیو کتل کېدل، چا د شپږو نورو میاشتو د زغم غوښتنه کوله او چا هم جګړه خپل مسوولیت او ناورینونه یې په تقدیر پورې تړل. وجدانونه ویده وو. ایمانونه ککړ شوي وو. مادیت په معنویت باندې دروند شوی و، په چارواکو کې د خپل ولس دې درد د درک وړتیا نه وه. هغوی ته ولسونه پردي ښکارېدل.

له خپل خیالي نیلي څخه راکوز شوم. هاخوا دیخوا مې وکتل. راته جوته شوه چې مونږ د نړۍ د پرمختګونو له کاروان څخه ډېر وروسته پاتې ملت یو. نړۍ مو ویني چې مونږ خپل وروڼه وژنو او خپل هیواد ورانوو. مونږ خپل افتخارات پلورو، مونږ د هغو هېوادونو په خیرات چلېږو چې مونږ یې زمونږ د متو په زور مات شوي او یا فتحه شوي هیوادونه ګڼو. مونږ د انسانیت په عروجي سفر او پرمختګونو کې هېڅ ونډه نه لرو، مونږ د نړیوالې سیالۍ په ډګر کې د نورو پر اوږو پروت بار یو. مونږ د نړیوالې ترېګنۍ په کلي کې هسکه غاړه نشو ګرځېدای.

ماښام مې په کابل کې د ژور بدلون احساس وکړ. هغه بدلون چې هراتیان یې نوښتګر وو. دغه نوښت د الله اکبر چیغې وې. کابل یې وخوځاوه. ولسونه راویښ شول. کابلیان دې ژوندي وي. د هرات د ولس نوښت یې ښه بدرګه کړ. په جنګي ذهنیت یې خاورې واړولې. سوله یې وځلوله. د الله اکبر چیغو داسې لاهوتي او ملکوتي ځوږ جوړ کړی و چې جنګي فکر یې کوڼ او وارخطا کړی و. زه له خوښۍ په جامو کې نه ځایېدم. په ځان نه پوهیدم. ټول جهان د تکبیر چیغې وهلې. ټول ولس سوله غوښته. ماهم ورسره چیغې کړې، ما هم د الله اکبر ملکوتي غږ بدرګه کړ.

# د ولایتونو پرله پسې سقوط او د حکومت چوپتیا؛

## طالبانو په تېرو څو ورځو کې د شپږو ولایتونو مرکزونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي

په افغانستان کې د جګړو او د وسله والو طالبانو لاس ته د یو شمېر ولایتونو د مرکزونو د لوېدو په دوام، تازه دغه ډله ادعا کوي چې سمنګان ولایت مرکز ایبک یې هم تر خپلې ولکې لاندې راوستې دی.

بلخوا د سمنګان مرستیال والي صفت الله سمنګاني هم تاییدوي چې د دغه ولایت مرکز ایبک ښار د طالبانو لاس ته لوېدلی دی. نوموړی وایي، طالبان وروسته له هغه ایبک ښار ته ننوتل، چې د ولسي پاڅونوالو مهم قوماندان سناتور محمداصف له خپلو شاوخوا ۲۵۰ کسانو سره طالبانو ته تسلیم شو. د سمنګاني په خبره، حکومتي ځواکونو له طالبانو سره سختې جګړې وکړې، خو وروسته یې د قومي مخورو د غوښتنې او د ولسي خلکو د تلفاتو د مخنیوي په موخه له جګړې لاس واخیست او دغه مرکز د طالبانو لاس ته ولوېد.

د وسله والو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد هم ویلي چې له شبرغان، تالقان، کندوز، سرپل او زرنج ښارونو وروسته، ایبک د هېواد شپږم ښار دی



چې په روانه اونۍ کې یې تر خپلې ولکې لاندې راولي.

افغان چارواکي بیا که څه هم په پرله پسې توګه د ولایتونو پر سقوط چوپ دي، خو ولسمشر غني تېره ورځ د هېواد د سیاسي او جهادي مشرانو او ملي شورا له رییسانو سره د هېواد د روان امنیتي وضعیت په اړه خبرې کړې دي. له ارګه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دغه کتنه کې د افغان ځواکونو او جمهوریت د بقا او تداوم د ملاتړ ترڅنګ د ولسي پاڅونوالو د پیاوړتیا او تجهیز په اړه پرېکړه شوې ده. د ارګ په اعلامیه کې ویل شوي: «په دغه کتنه کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو، د جمهوریت د بقا او تداوم د ملاتړ ترڅنګ د دښمن د هجوم پر وړاندې د ولسي پاڅونونو د چټک انسجام، پیاوړتیا او تجهیز پرېکړه وشوه.»

د ولسمشرۍ ماڼۍ د معلوماتو له مخې، په غونډه کې د ملي مصالحې شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله، د جمهوري ریاست دویم مرستیال سرور دانش، پخواني جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف، د ولسمشر غني پخواني لومړي مرستیال مارشال عبدالرشید دوستم، کریم خلیلي، حاجي محمد محقق، محمد یونس قانوني، د ولسي جرګې مشر میر رحمان رحماني او د مشرانو جرګې مشر فضل الهادي مسلمیار ترڅنګ یو شمېر لوړپوړو چارواکو هم ګډون کړی و.

د یادو شپږو ښارونو له سقوط سره جوخت، د کندهار، هرات او لښکرګاه ښارونه هم په دې وروستیو کې د وسله والو طالبانو د پراخو بریدونو شاهد وو، خو کورنیو چارو وزارت وایي چې د یادو ښارونو د نیولو په اړه یې د طالبانو پلان شنډ کړی دی.

د ولایتونو پر مرکزونو د طالبانو له بریدونو سره هممهاله ولسمشر غني تېره اونۍ د هېواد د روان امنیتي وضعیت په اړه د ملي شورا ځانګړې غونډې راوبلله. نوموړي په دغه غونډه کې وویل، دوی دې پایلې ته رسېدلي چې وسله وال طالبان پر تلپاتې او عادلانه سولې هېڅ باور نه لري او له دغه ډلې څخه غواړي چې د واقعي مذاکراتو او جګړې څخه یو انتخاب وکړي.

غني وویل، چې افغانستان اوسمهال د طالبانو او د هغوی د ملاتړو له بې ساري یرغل سره مخ دی، خو ډاډ یې ورکړ چې د هېڅ ورانکارې ډلې پر وړاندې به تسلیم نه شي.

## د کتـــاب خبـرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

په ځینو نورو ډلو کې به د کاریګرو مشر خپل هماغه پخوانی رواج کاوه او کاریګر به یې وهل او رټل. موږ به دې حالت کې هم خپله نسبي نېکمرغي یادوله او شکر به مو ایست چې له داسې کس سره کار نه کوو او که وو هم، د لږ وخت لپاره. یو وخت له بده مرغه همداسې ځای ته ورېرابر شوم. په دوه ساعته کار کې ځارونکی یوازې زما سر ته ولاړ و، که چېرې تر دې دوو ساعتونو وروسته د هوایي برید زنګ نه وای کړنګېدلی، زموږ کار یې نه وای بند کړی او هغوی مجبور شوي نه وای چې زموږ کار له سره ډلبندي کړي، نو زه به یې په هغه تابوت کې ببرته زندان ته وړلای چې د مړو او مرګ حال خلکو د انتقال لپاره یې راوړی وی. څوک یې تصور هم نه شي کولای چې په داسې وخت کې د هغه زنګ اواز څه ډول ارامتیا راوړي. سوک وهونکی چې د لوبې په وروستیو خطرناکو شېبو کې د زنګ غږ اوري، دی هم هغه ارامتیا نه شي احساسولای چې په هغه وخت کې ما احساس کړې وه.

موږ د وړو وړو ښېګڼو منندوی وو. که تر ویده کېدو مخکې به مو د سپږو لټولو وخت پیدا کړ، دې ته به هم خوشاله وو، سره له دې چې دا کار هېڅ خوندور نه و. ځکه د دې کار لپاره باید په یوه تشه او بې بخارۍ کوټه کې لوڅ ولاړ وای. د دې کوټې له چته به ځراغ راځړېده. خو په دې وخت کې ښه دا وه چې د هوایي برید زنګ نه وای وهل شوی او ځراغونه نه وای مړه شوي، ځکه که په دې وخت کې مو کار پاتې وای، تر نیمې شپې باید ورته ویښ پاتې شوي وای. د زندان د ژوند کوچنیو خوښیو موږ ته منفي لذت راکاوه. هغه خوند یا لذت چې شوپنهاور یې «له کړاوه خلاصېدل» بولي، خو دا هم نسبي و. اصلي مثبت خوندونه حتی که کوچني وو، چنداني ډېر نه وو. زما یادېږي چې یوه ورځ مې د دې خوندونو یا خوښیو یو حساب کاوه، په دې حساب کې راته مالومه شوه چې ډېرې اونۍ پخوا مې یوازې دوه ځله خوندورې شېبې تجربه کړې وې. یوه هغه ورځ وه چې له کاره ستړی راغلم او تر ډېر انتظار وروسته د زندان پخلنځي ته لاړم او په لیکه کې ودرېدم، هلته پخلیوال (ایف) لوی دېګ ته ولاړ و. د ده له مخې به چې کوم زنداني تېرېده، په کاسه کې به یې ورته یوه څمڅۍ ښوروا نه اچوله. دی یوازینی پخلیوال بندي وو چې د بندیانو مخ ته به یې نه کتل، ټولو ته به یې یو ډول ښوروا ورکوله او حتی له خپلو ملګرو او کلیوالو سره به یې هم یو ډول چلن کاوه، داسې به یې نه کول چې یوه ته مرخېړي واچوي او بل ته تشې اوبه. زه د هغو بندیانو په اړه قضاوت نه کوم چې خپل ملګري به یې تر نورو غوره بلل او توپیر به یې کاوه. که یوه کس ته د مرګ او ژوند خبره زر مطرح کېدونکې وي او هغه کس خپلو ملګرو ته پر نورو امتیاز ورکوي، داسې به څوک څه ملامت کړي. هېڅوک تر هغې د دې قضاوت حق نه لري چې له ځانه یې دا پوښتنه نه وي کړې چې که دی د هغه کس پر ځای وای، همداسې به یې نه کول؟ **دوام لري...**

# ډاکتر عبدالوکیل خان

احسان الله کریمي



ډاکتر عبدالوکیل خان عمرخېل په ۱۲۹۸ کال په کابل کې وزیږېد. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د کابل د غازي په عالي لیسه کې سرته ورسولې او د لوړو زده کړو لپاره په یو دولتي سکالرشیپ هندوستان ته ولاړ او هلته یې د لسانس تر کچې پورې زده کړې وکړې. نوموړي د هند د لالپورې پوهنتون د کرنې او ښوالۍ په برخه کې لوړې زده کړې وکړې او وروسته د ماسترۍ لپاره د برېتانیې شاهي هیواد او د دوکتورا لپاره امریکا ته ولاړ. ډاکتر عبدالوکیل د ارواښاد موسی شفیق په کابینه کې د کرنې وزیر و، چې هغه وخت یې د کرنې او ښوالۍ په برخه کې په لسګونو پروژو کې کار وکړ.

د خاورې پروژه، د څرځایونو د اصلاح او پراخوالي پروژه، د شنه څواک پروژه، د نباتاتو د ساتنې پروژه، د مصنوعي القاح پروژه، د چرګانو پروژه، د ورېښمو چینجیو پروژه، د خړوبولو کوچنۍ پروژه، د کوچنیو بندونو پروژې، د پروان د پراخو ځمکو د خړوبولو پروژه او ځینې نورې پروژې یې د یادونې او درنښت وړ دي.

ډاکتر عبدالوکیل د موسی شفیق په کابینه کې د کرنې وزیر، د هلمند- وادي پروژې د تخنیکي مرستیال او بیا وروسته د همدې پروژې د رییس په توګه دندې تر سره کړې دي. نوموړي له هیواده بهر هم له ډېرې مرستندویه پروژو سره کار کړی دی.

نوموړي د خپل وزارت پر مهال د مېوو باغونو ته هم زیاته توجه وکړه، په همدغه وخت کې یې غزني، فراه، لوګر، وردګ، سمنګان او کابل ولایتونو کې ۱۶ باغونه د بېلګې او څېړنې لپاره جوړ کړل، چې ډېرې ښې پایلې یې ورکړې. ده کوښښ کاوه چې څنګه وکولای شي د ونو او بوټو په ژوندي ساتلو او سمسورتیا کې ډېر کار وکړي. ډاکټر عبدالوکیل څه وخت د هلمند- وادي پروژې د تخنیکي مرستیال په توګه وټاکل شو، چې د هغه وخت په ډېرو لږو او ابتدایي امکاناتو یې دغه پروژه بریالۍ او دې دښتې ته یې د بغرا په نوم لویه ویاله تېره او د هلمند خړې دښتې یې خړوبې او زرغونې کړې. دا چې نوموړي د هلمندیانو زړه وګاټه او هغوی ته یې کار وکړ، هلمندیانو یو ځل ملي شورا ته د هلمند د خلکو استازی هم وټاکه. عبدالوکیل خان د ثور له کودتا وروسته پېښور ته کډوال شو او هلته یې له نړیوالو مرستندویه ادارو سره کار پیل کړ. وایي دومره د کر شوقي و چې کله به نوی اصلاح شوی تخم یا نیالګی د نړۍ په کوم کونج کې پیدا شو، ده به هرو مرو خپل هیواد ته راوړو، چې ښې بېلګې یې له جاپان، امریکا، لبنان او د منځنۍ اسیا له ځینو هېوادونو څخه د مڼو، بادامو، انګورو، شفتالو، ګیلاسو، ناکو او نورو ډول ډول نیالګیو راوړل او تکثیرول یادولی شو. همدارنګه نوموړي د کرنې په اړه په سلګونو مسلکي او څېړنیزې مقالې لیکلې دي، چې د نوموړي د مقالو یوه ټولګه (افغانستان کې د باغونو پرمختګ) په نوم چاپ شوې هم ده، خو ډېر اثار یې لا هم ناچاپ پاتې دي.

ډاکتر عبدالوکیل ته د نړدې کسانو په وینا، نوموړي له کرنې سره دومره بې حده مینه درلوده، چې اوسمهال یې هم د ځینو ګاونډیو هیوادونو په مشهورو پوهنتونونو کې د کرو خدمتونو یادونه کیږي او هرڅوک یې د مثال په توګه کاروي. د دوی په وینا، افغانستان که نن زرغون دی او په ډېری ولایتونو کې خوندورې مېوې لري، دا برکت د ډاکتر عبدالوکیل دی. جالبه دا ده چې دې دومره لوی سړي بې حده ساده ژوند درلود، له هر بزګر او بڼوال سره به پوله په پوله، نیالګي په نیالګي ګرځېده او د ناروغیو په تشخیص کې به یې ورسره مرستې کولې؛ که څه هم د کرنې د علم پروفیسور و او آن د نړۍ د سترو پوهانو په کتار کې ولاړ و، خو بیا به یې هم ویل چې «زه یو باسواده دهقان یم!».

وایي ارواښاد عبدالوکیل خان به چې نیالګی کېښود، ورته ځیر به شو، څانګې به یې ورسمې کړې او تم به شو چې د نیالګي شاوخوا خاورې به اوبه وزغملې، نو ده به ژوره ساه واخیسته، خپلو ملګرو ته به یې وویل: «داسې سیاست مو وکړ، چې له ګټې پرته یې تاوان هیچا ته نه رسیږي.»

نوموړی د نورو افغانانو په څېر په جلا وطنۍ کې له ډېرو ستونزو سره مخ شو، ویل کیږي چې له وطن سره یې ډېره بې حده مینه درلوده او د ژوند تر پایه یې د هیڅ هیواد تابعیت وانخیست. کله چې هیواد ته راستون شو بیا یې د افغانستان په زرغون کولو پیل وکړ، له بهر څخه به چې کله هیواد ته راتلو، نو حتماً به یې د بېلو بېلو میوو بوټي له ځان سره راوړل او د هیواد په بېلو سیمو کې به یې کرل.

عبدالوکیل خان د افغانستان د زرغون کولو لپاره ډېر بنسټیز کارونه وکړل، چې لسیزې وروسته یې هم د هیواد په بېلو برخو کې هیوادوالو ته ګټه رسیږي. د نوموړي له دوستانو او د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون استاد شراف الدین عظیمي وایي چې ډاکتر عبدالوکیل خان د افغانستان لپاره ډېر نه هېردونکي کارونه کړي، چې هیڅوک ورسره د پرتلې وړ نه دي. د نوموړي په خبره، هغه رښتینی انسان و او ډېر ساده ژوند یې درلود. استاد زیاتوي چې کله د کرنې وزیر هم و، خپله به تلو او له بزګرانو سره به یې په پټیو کې کار کاوه.

ارواښاد ډاکټر عبدالوکیل خان د هیواد واقعي خدمت کوونکی او داسې بچی و چې سیال یې ډېر کم دی. د افغانستان د کرنې سکټور په برخه کې له بل هرچا زیات خدمتونه نوموړي تر سره کړي او هېڅوک د ارواښاد په خدمتونو سترګې نشي پټولای.

ډاکتر عبدالوکیل خان اووه زامن او دوې لورانې لرې چې اوسمهال ټول په امریکا کې مېشت او هلته ژوند کوي. نوموړی ډېر اجتماعي او ټولنیز انسان و، په ټولنه کې یې له خلکو سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې او په سیاست او نورو مسایلو باندې ډېر ور ګډ نه و. ده به چې هر څه د ځان لپاره خوښول، نورو ته یې هم هغه خوښول.

عبدالوکیل خان نه یوازې هیوادوالو ته سرې او زیړې مڼې راوړې، بلکې د کرنې په نورو برخو کې یې هم ستر خدمتونه کړي دي. یو لوی میراث یې خپلو هیوادوالو ته پرېښی دی، چې د تل لپاره د ارواښاد یاد ژوندی ساتي.

د نوموړي د ښو خدمتونو له کبله د افغانستان حکومت په مرکز کابل او په ډېری نورو ولایتونو کې ځینې ملي باغونه، څلور لارې، ودانۍ او منارونه د عبدالوکیل خان په نوم نومولي دي. د کرنې وزارت سلاکار پوهاند صمدي د ډاکتر عبدالوکیل عمرخېل په اړه وایي چې عمرخېل د کرنې په سکټور کې ډېر زیات خدمتونه کړي دي او افغانستان ته یې د میوو داسې نیالګي راوړي دي، چې نن یې افغانستان پر مټ له نورې نړۍ سره د ښو میوو په برخه کې سیالي کولای شي.

داسې ویل کیږي چې ډاکتر عبدالوکیل خان چې کله د کرنې وزیر و، هغه وخت هلمند ولایت د اسیا په کندو بدل شو او ډېری هیوادونو ته به له دې ولایت څخه غنم صادرېدل. نوموړی د نړۍ دې مشهورو او غوره فروفیسورانو په ډله کې راځي او د کرنې په برخه کې یې کړي خدمتونه ان نړیوال ستایي.

عبدالوکیل خان د افغانستان په تاریخ کې د کرنې په برخه کې داسې بنسټ کېښود، چې لسیزې وروسته یې هم یاد ژوندی دی.

کله چې نوموړی د ناروغۍ پر بستر پرېوت او له هیواد څخه بهر د ډاکترانو له لوري ورته وویل شول چې ستاسو روغتیایي وضعیت چنداني دې ډاډ وړ نه دی، نوموړی ژر خپل هیواد ته راوګرځېد، دلته یې په لسګونو باغونه کېنول او له لسګونو هغو باغونو یې بیا لیدنه وکړه، چې نوموړي کېنولي وو. نوموړی د ژوند تر اخرو په خپل هیواد کې پاتې شو او په پوره مینه او هڅه یې خدمت وکړ.

نوموړی ډېر پرهیزګاره شخص ګڼل کېده او د ژوند تر پایه یې د هیڅ قوم پلوي ونه کړه. بالاخره دې سترې هستۍ په ۱۳۷۹ کال کې د وینې د سرطان له امله د پښتونخوا په پېښور کې له نړۍ سره مخه ښه وکړه او جنازه یې د وردګو ولایت، نرخ ولسوالۍ، د عمرخېلو کلي په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۱۰ |
| € | ۹۴,۷۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۶۰ |
| £ | ۱۱۱,۳۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیاني

# ایا د خپلو افکارو له ځواک څخه خبر یاست؟

**ژباړه: صفي الله پادشاه**

ایا پوهېږئ چې په خپلو فکرونو سره کوم کارونه تر سره کولای شئ او ایا پر دې هم پوهېږئ چې فکرونه مو پر تاسو کوم کارونه تر سره کولای شي؟

په دې مقاله کې زده کوو چې زموږ فکرونه څه ډول موږ پر بریالیو او شتمنو کسانو بدلوي.

هر څه زموږ د مغز له دننه څخه پیل کېږي. هر هغه کار چې تر سره کوو یې او هر هغه کار چې ډډه ترې کوو، زموږ د فکرونو پایله ده. انګېزه، شور او شوق، هیجان، ناراحتي، غم او اندېښنه، دا هر څه زموږ له فکرونو سرچینه اخلي او موږ کولای شو وټاکو چې له دې فکرونو څخه کوم یو یې زموږ په ذهن کې وده وکړي.

خلک فکر کوي چې باندني عوامل لکه پیسې او شتمنې د یوه غوره ژوند سبب کېږي. البته چې دغه څه د یوه ښه ژوند درلودلو لپاره مهم دي، خو ایا تر اوسه مو فکر کړی چې څه شی د همدغو پیسو او شتمنۍ د تر لاسه کېدو لامل کېږي؟

ځینې وخت لیدل کېږي چې ان شتمن کسان هم چې د ژوند ټولې اسانتیاوې لري، بیا هم خواشیني او اندېښمن وي. ستاسو په اند، دغه څه بیا له کومه ځایه سرچینه اخلي؟ ټولې یادې پوښتنې ځوابونه لري.

هر څه زموږ له فکرونو سرچینه اخلي. له موخو او هیلو سره د ډېری خلکو د فکرونو همغږي نه اوسېدل، هغه تر ټولو لوی لامل دی چې د هغوی د بریالیتوب په لاره کې خنډ ګرځي. د نړیوالې ټولنې له شمېرنو سره سم، د نړۍ ۹۲ سلنه خلک هغه فکرونه چې په خپل سر او ذهن کې یې پالي، د هغوی د ژوند له اصلي مسیر سره په بشپړه توګه خلاف دي. نو که تاسو غواړئ چې خپله لاره له عامو خلکو څخه بېله کړئ او په راتلونکې کې لویو بریاوو ته د رسېدو په موخه ګام اوچت کړئ، غوره ده چې هر څه له خپل ذهن څخه پیل کړئ.

د ذهن د بدلولو لپاره ډېرې لارې چارې شته چې د موضوع په دوام ورته اشاره کوو.

**په لومړي قدم کې خپل فکرونه وپېژنئ**

د خپلو افکارو په هکله فکر وکړئ. له ځانه وپوښتئ چې په ذهن کې مو څه تېرېږي؟ د ورځې په اوږدو کې زما ذهن پر څه شي بوخت دی؟ د هغو مسایلو څو سلنه زما لپاره ګټور دي چې په هکله یې فکر کوم؟

دا هغه پوښتنې دي چې باید په لومړي قدم کې یې له ځانه وپوښتئ. تاسو ته وړاندیز کوم څو خپل ځان ته وخت ورکړئ او څو شېبې له خپل ځان سره تېرې کړئ. څو ورځې پر دې تمرکز وکړئ چې تاسو څه ډول فکرونه لرئ. ځکه همدا فکرونه دي چې له ژوند څخه مو تر لاسه کېدونکې لاسته راوړنې ټاکي. له هغه وروسته پر دې فکر وکړئ چې د هغو فکرونو لپاره چې ستاسو هیله ګڼل کېږي، باید په خپل ذهن کې څه ډول فکرونو ته وده ورکړئ، نو لومړی قدم مو د خپلو افکارو په هکله فکر کولو ته ځانګړی کړئ.

د امریکا د سولې فعال، میلډرېټ نورمن رایډر پر دې باور دی؛ که چېرې په رښتیني توګه پر دې پوهېدای چې ستاسو د فکرونو ځواک څومره دی، هېڅکله به مو په ذهن کې منفي فکر ځای نه و نیولی.

**په دویم قدم کې معمولي فکرونه له خپله ذهنه لرې کړئ، ځکه منفي فکرونه، منفي پایلې له ځان سره لري.**

ډېری موږ انسانان هر څه ته په خپل ذهن کې د پای ټکی ږدو، یانې هغه فکرونه چې زموږ په ذهن کې شته، موږ ته وایي چې موږ نشو کولای د لویانو په څېر کار وکړو، د هغوی په څېر بریالي شو او د هغوی په څېر ژوند وکړو. همدغه چاره د دې لامل کېږي څو خپل ځان ته د هڅو، خوارۍ کولو او د بریالیتوب د نوو لارو د ازمایلو زحمت ور نه کړو. ښکاره ده چې په دا ډول فکر سره بریالي کېدل ناشوني دي.

که چېرې تاسو په پوره دقت سره د ټولنې د بریالیو وګړو او عامو وګړو د فکر کولو طریقه سره پرتله کړئ، وبه وینئ چې د هغوی د فکر کولو طریقه له موږ سره توپیر لري او همدا د فکر د طریقې بدلون د دې لامل کېږي څو د هغوی لاسته راوړنې هم له موږ سره توپیر ولري. نو زموږ معمولي فکر په پای کې پر یوه معمولي ژوند پای ته رسېږي.

که غواړئ دغه وضعیت ته بدلون ورکړئ، له خپلو فکرونو څخه یې پیل کړئ. تل له ځان سره ووایاست چې بریالي کسان هم همدا د ځمکې د مخ انسانان دي، له اسمانه نه دي راغلي؛ هغوی هم زموږ په څېر خوراک او څښاک کوي، یوازې دومره ده چې هغوی په خپل ذهن کې پیاوړو، له پر ځان باور څخه برخمنو او بریا ته د رسېدو لپاره پر پیاوړې ارادې سمبالو فکرونو ته وده ورکوي.

دا هغه څه دي چې موږ یې نه لرو او فکر کوو چې درلودلای یې هم نه شو.

د یوه بریالیتوب د پیل لومړی ګام؛ پر مثبتو، پیاوړو او له پر ځان باور څخه برخمنو فکرونو باندې د معمولي فکرونو بدلول دي.

د امریکا مشهور لیکوال، نورمن وېنسل فیلډ وایي، خپلو فکرونو ته مو بدلون ورکړئ، څو وکولای شئ چې نړۍ ته بدلون ورکړئ.

**په درېیم قدم کې خپله د فکر کولو پوهه لوړه کړئ، څو وکولای شئ په سمه توګه فکر وکړئ.**

یوه ستونزه چې په موږ کې شته او هغه د چا خبره ډېره یې پر ځان نه ور وړو؛ تړلی فکر، د پوهې نشتون، کوچنی ذهن او فکري تعصبونه دي. ښکاره خبره ده چې له دا ډول فکرونو څخه د مثبتو پایلو تمه نه شو کولای. په لومړي قدم کې باید د فکر کولو په طریقه او خپل نړۍ لید کې یو انقلاب رامنځته کړو او د دغې چارې یوازینۍ لار، د پوهې د سطحې لوړول او د خپلې ذهني فضا پراخول دي او دغه چاره هم یوازې د علم او پوهې په تر لاسه کولو سره رامنځته کېږي.

څومره چې کولای شئ، کتاب ولولئ، سفر وکړئ، خپل مالومات زیات کړئ، د هغه څه په هکله چې مالومات نه لرئ، لا ډېر پوه شئ او هغه څه چې تر ننه ستاسو فکري خنډونه او ذهني تعصب ګڼل کېدل، له منځه یوسئ. د خپلو فکري مخالفینو کتابونه ولولئ، له څو میاشتو وروسته به ووینئ چې پر مخ مو یوه نوې نړۍ پرانیستل شوې ده او ګواکې چې په تېر کې په جهل او ناپوهۍ کې ډوب وی.

کتاب ستاسو د روح غذا ده، هېڅکله یې له لوستلو لاس مه اخلئ. له یوه کال وروسته به ووینئ چې د پېړیو په اندازه لوی شوي یاست او دغې فکري پوهې تاسو پر یوه نوي انسان بدل کړي یاست.

**په څلورم قدم کې فکر باید جوړ کړل شي**

ډېری خلک فکر کوي چې په تصور کولو سره کولای شي یو نوی فکر رامنځته کړي. خو موضوع له دې هم پېچلې ده. په حقیقت کې یو پیاوړی فکر چې وکولای شي زموږ د ژوند پر مختلفو اړخونو باندې اغېزه وکړي، هغه څه دي چې باید د یوې ونې په څېر زموږ د وجود دننه وکرل شي. مناسب خواړه ورته ورسېږي، وده وکړي، څو وکولای شي د شخص دننه خپله اغېزه وښیي.

په خپل ذهن کې مثبتو فکرونو ته وده ورکړئ او له منفي فکرونو ځان وساتئ.

**په پنځم قدم کې خپل فکر پیاوړی کړئ**

پیاوړی فکر، جسم پیاوړی کوي. تاسو باید دا فکر ونه کړئ چې فکرونه یوازې د ذهن دننه ساده اوازونه دي. په حقیقت کې هر ساده فکر، ستاسو په ذهن کې د داسې یوه وضعیت د تولید په حال کې دی چې په راتلونکې کې ستاسو لخوا د یوې موضوع په هکله د تصمیم نیولو لامل کېږي.

ښایي تر اوسه مو دا موضوع په سمه توګه نه وي درک کړې، خو هر ساده او پېچلی فکر او هر کوچنی او لوی فکر کولای شي ستاسو په برخلیک کې د پام وړ رول ولوبوي.

امریکایي لیکوال او ویناوال، وین دایر وایي، تاسو خپل فکرونه جوړوی، فکرونه مو ستاسو نیت جوړوي او نیت مو ستاسو پر حقیقت بدلېږي. نو په قطعي او ټولیز ډول باید خپل منفي او کمزوري فکرونه له خپل ذهني دورانه وباسئ او ورو ورو د مثبت فکر کولو او خپلو فکرونو د پیاوړي کولو پر لور لاړ شئ. تل مثبت فکر وکړئ: زه کولای شم، زه یې زده کوم، زه به یې سرته رسوم، زه خپله هڅه کوم....

دغه ډول فکرونه د څو کلونو په اوږدو کې له تاسو څخه یو پیاوړی او پر ځان باور لرونکی شخص جوړوي، چې پایله یې ستاسو په راتلونکو کړنو او موخو کې بریا ته رسېدل دي. زما پوښتنه له تاسو څخه دا ده: تاسو د دې لپاره چې پر خپلو فکرونو مسلط شئ، څه کوئ؟ پر ځواب مو فکر وکړئ او په ذهن کې مو داسې فکرونه ورو‌زئ چې یوه ورځ یې له لاسته راوړنو خوښي څرګنده کړئ، نه پښېماني.

# د اسرائیل او ایران د کړکیچ دوام؛

## بېنټ: د ایران د وروستیو پاروونکو کړنو پر ضد باید جدي اقدامات وشي



د اسراییلو لومړي وزیر نفتالي بېنټ د عمان اوبو ته نږدې پر مېرسر سټریټ بېړۍ د برید په تړاو د جي- اووه هېوادونو دریځ ستایلی او د ایران خلاف یې د اقداماتو غوښتنه کړې ده. بېنټ پر مېرسر سټریټ د برید په تړاو د امریکا د پوځ د څېړنو له پایلو هم رضایت ښودلی ده. دا په داسې حال کې ده چې، د امریکا پوځ ویلي وو، د برید ځای ته نږدې یې د ایران د یوې بې پیلوټه الوتکې ټوټې موندلې دي. د اسراییلو لومړي وزیر ویلي: «نن ازمېښت د ګام اخیستلو دی، نه د اعلامیو صادرولو.»

دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ د اوو سترو اقتصادي هېوادونو یا جي- اووه د بهرنیو چارو وزیرانو د جمعې پر ورځ په یوه اعلامیه کې ایران تورن کړ، چې پر مېرسر سټریټ سوداګریزه بېړۍ په برید کې لاس لري. دا بېړۍ د یوه اسراییلي میلیاردر اړونده ده. په برید کې د بېړۍ د عملې یو برېټانوی او یو رومانوي غړی وژل شوي وو. د جي- اووه په اعلامیه کې ایران تورن شوی، چې په دغه راز کړنو سره یې نړیوال امنیت له خطر سره مخامخ کړی دی. په ورته مهال په منځني ختیځ کې د امریکا د پوځ مرکزي قوماندانۍ یا سېنټکام د دې پېښې په اړه د خپلو څېړنو پایله خپره کړې وه. د سېنټکام په راپور کې راغلي چې دا برید ایران کړی دی. د اسراییل لومړي وزیر داسې مهال د ایران خلاف د اقداماتو غوښتنه کوي، چې ایران په دغه برید کې د دوی د لاس ثابتولو لپاره وړاندې شوي شواهد جعلي بللي دي. نفتالي بېنېټ د ایران ترڅنګ د لبنان د حزب الله ډلې له خوا پر دوی وروستیو راکټي بریدونو ته هم اشاره کړې ده. هغه د لبنان له حکومت وغوښتل، چې له خپلې خاورې پر اسراییلو د راکټي بریدونو مخه ونیسي.

بېنېټ ویلي، دوی ته دا مهمه نه ده چې دا بریدونه لبنانیان که فلسطینیان کوي، بلکې د لبنان پوځ او حکومت یې د مخنیوي مسئول ګڼي. هغه زیاته کړې: «اسراییل به پر خپله خاوره راکټي برید ونه زغمي.» د اسراییلو لومړي وزیر ویلي، ایران او حزب الله غواړي چې دوی د لبنان په سیاسي او اقتصادي کړکېچ کې ورښکېل کړي. هغه د حزب الله د کړنو او چلند پر وړاندې د لبنانیانو غبرګون هم ستایلی دی. راپورونه وایي، له دغو شلو - لس توغندي د اسراییلو د دفاعي سیستم په وسیله شنډ شوي، شپږ د اسراییلو په غیر استوګنیزو سیمو کې لګېدلي او پاتې ۴ لبنان کې پرېوتي دي. د حزب الله مشر سید حسن نصرالله ګواښ کړی چې پر اسراییلو به بریدونه ډېر شي. هغه ویلي، تر دې دمه یې د اسراییلي بریدونو ځواب یوازې پرانیستو او غیر استوګنیزو سیمو کې ورکړی، خو تر دې وروسته دا تګلاره بدلېدای شي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!

وايګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه شنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ ۱۰مه | ۷۶۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۴ | ۴۱ | ۳۵ | ۴۱ | ۳۳ |
| ۱۹ | ۱۸ | ۲۵ | ۲۶ | ۲۷ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۷ | لمر ختل ۰۵:۱۰ | ماسپښين ۱۱:۵۹ | مازيګر ۰۴:۴۹ | ماښام ۰۶:۴۷ | ماخوستن ۰۸:۲۱

## نړۍ




## ملګري ملتونه: نړۍ د تودوخي له کبله له جدي ګواښ سره مخ ده



د اقليمي بدلون په چارو کې د ملګرو ملتونو کمېټې جدي خبرداری ورکړی چې نړۍ د تودوخې يوې خطرناکې درجې ته ورننوتې شوې ده. دې کمېټې انسانان په ښکاره په دې برخه کې ګرم بللي دي.

د اقليمي بدلونونو لپاره د بين‌الحکومتي کمېټې په راپور کې د ساينس‌پوهانو په حواله راغلي، چې د ځمکې په اتموسفير کې د مضرو ګازونو کچه هومره لوړه شوې، چې د را روانې يوې لسيزې اقليمي اختلال ته کافي ده. په ورته مهال د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونيو ګوترېش د دغه راپور په اړه ويلي، چې د فوسيلي تېلو د سوځېدو او د ځنګلونو د له‌منځه تلو له کبله مضره ګازونه د ځمکې مرۍ زېندۍ کوي او ميلياردونه انسانان له سمدستي خطر سره مخامخ کوي. تر دې مخکې په اقليمي چارو کې د متحده ايالتونو د ولسمشر ځانګړي استازي جان کري ويلي وو، د ملګرو ملتونو راپور دا خبره ډاګيزه کړه چې اقليمي بحران به نور هم خطرناک شي او له همدې کبله نوموړي په را روانه يوه لسيزه کې په دې برخه کې د جدي اقداماتو غوښتنه وکړه. ملګري ملتونه داسې مهال د تودوخې د زياتېدو په اړه خبرداری ورکوي، چې په دې وروستيو کې د اقليمي بدلون له کبله په ټوله نړۍ کې تودوخې اندازه زياته شوې او آن په ځينو ځايونو کې يې له کبله اورلګېدنې هم رامنځته شوې دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۲۰۳ ميليونه او ۶۷۸ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ۲۰۳ ميليونه او ۶۷۸ زره او ۱۹۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله څلور ميليونه او ۳۱۱ زره او ۹۸۹ کسان مړه شوي او نږدې ۱۸۳ ميليونه نور تري ښېرته رغېدلي دي.

د يادو شمېرو له مخې، د امريکا متحده ايالتونه د دغه ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امريکا کې د دغه ويروس مثبتې پېښې ۳۶ ميليونه او ۵۴۳ زره او ۹۲۴ ته رسېدلي او ۶۳۳ زره او ۱۲۰ نور امريکايان تري مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۱ ميليونه او ۹۷۶ زره او ۷۸۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د ۲۰ ميليونه او ۱۶۵ زره او ۶۷۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دريم، روسيه د شپږ ميليونه او ۴۶۹ زره او ۹۱۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ ميليونه او ۳۰۵ زره او ۱۵۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

برېتانيا، ترکيه، ارجنټاين، کولمبيا او هسپانيا بيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## باشنده‌گان هلمند: درنبردهای دوهفته اخیر ۳۴۲ غیرنظامی جان باخته‌اند



شماری از باشنده‌گان هلمند که برای دادخواهی به کابل آمده‌اند، دیروز در یک نشست خبری گفتند که در نتیجهٔ جنگ‌های دو هفتهٔ اخیر در شهر لشکرگاه، ۳۴۲ غیرنظامی جان باختند و ۹٦۷ غیرنظامی دیگر زخمی شده‌اند.

باشنده‌گان هلمند می‌گویند که این غیرنظامیان در درگیری‌های رو در رو میان نیروهای امنیتی و طالبان، حمله‌های هوایی و نیز موشک پراکنی‌های طالبان کشته و زخمی شده‌اند.

مسعود چوپان، باشندهٔ هلمند گفت: «۳۴۲ غیرنظامی شهید و ۹٦۷ غیرنظامی دیگر زخمی شده‌اند که شماری شان زنان و کودکان استند.»

فضل باری فیاض، باشندهٔ دیگر لشکرگاه نیز افزود: «به غیرنظامیان تلفات وارد شده‌است. به مردم زیان‌های مالی و جانی رسیده‌است.»

به گفتهٔ باشنده‌گان هلمند، ده‌ها خانه نیز در نتیجه جنگ میان نیروهای دولتی و طالبان در لشکرگاه ویران شده‌اند و صدها خانواده هم ناگزیر شده‌اند خانه‌های شان را ترک کنند.

شریف علیزی، باشندهٔ هلمند بیان داشت: «خانه‌یی در هلمند نمانده است که از جنگ صدمه ندیده باشد و کسی هم در هلمند پیدا نمی‌شود که بدلیل جنگ خانه‌اش را ترک نکرده باشد.»

اختر محمد بادیزی، مشاور رئیس‌جمهور نیز اظهار داشت: «در خانه‌های غیرنظامیان یا ماین‌گذاری شده، یا طالبان از آن به‌عنوان سنگر استفاده کرده‌اند.» اما وزارت دفاع ملی می‌گوید که برخی از بخش‌ها در لشکرگاه از وجود طالبان پاک‌سازی شده‌اند و با پاک‌سازی بخش‌های دیگر، امنیت این شهر تأمین خواهد شد.

## ژوند

## انګور د معدې لپاره ګټور دي



انګور د الله تعالی له لويو نعمتونو څخه شمېرل کېږي، چې پر غذايي ځانګړتياوو سربېره د درملنې ځانګړتياوې هم په خپل جوړښت کې لري. دغه راز انګور يو له هغو ميوو څخه دي، چې د زياتو غذايي موادو په درلودو سربېره ډېر ژر هضمېږي، وينه ډېروي او د وينې په پاکولو کې ګټور تماميږي. انګور د ښې روغتيا لپاره يو نعمت ګڼل کېږي، چې وزن ډېروي او د مخ د پوستکي رنګ ښکلی کوي. دغه راز د انګورو په جوړښت کې کاربوهايډريټ، پروټين، ويټامين اې، ويټامين سي، کلسيم او اوسپنه هم موندل کېږي، چې د انسان د روغتيا لپاره ډېر ګټور تماميږي. هغه کسان چې ډېرې وخت د معدې له ستونزو سر ټکوي يا هم د معدې اړوند ستونزې لري، نو د انګورو استعمال ورته بې حده ګټور دی. دغه راز زړه، ځيګر، دماغو او ګردو ته انرژي او پياوړتيا وربښي او د سينې اړوند د ټولو ناروغيو لپاره اغېزمن ګڼل کېږي او په ښه کولو کې مرستندويه تماميږي.

## وټس‌اپ د لوړ کيفيت تصويرونو او ويډيوګانو لېږل ممکنوي




وټس‌اپ په يوې داسې ځانګړنې کار کوي چې په مرسته يې کاروونکي د استول کېدونکو تصويرونو او ويډيوګانو کيفيت کنټرولولی شي. د وټس‌اپ په نويو ځانګړنو نظر ساتونکې وېب‌پاڼې، WABetaInfo، د راپور پر بنسټ وټس‌اپ اوسمهال په دوو نويو ځانګړنو کار کوي چې ډېر ژر به يې ازمايښتي بڼه وړاندې شي. د دغو دوو ځانګړنو په مرسته به کاروونکي د استول کېدونکو تصويرونو او ويډيوګانو کيفيت انتخابولو لپاره درې انتخابونه ولري. کاروونکي کولی شي د استول کېدونکو تصويرونو او ويډيوګانو لپاره له اتو (Auto)، غوره کيفيت (Best Quality) او ډېټا سېور (Data Saver) څخه يو انتخاب کړي. که چېرې کاروونکي اتو انتخاب کړي، نو د غوره انټرنټ لرلو په صورت کې به لوړ کيفيت لرونکې تصويرونه او ويډيوګانې واستول شي او که چېرې د انټرنټ سرعت لړ وي، نو وټس‌اپ به په اتومات ډول د تصويرونو او ويډيوګانو کيفيت هم لړ کړي. د غوره کيفيت لرونکو تصويرونو او ويډيوګانو استولو لپاره بايد غوره کيفيت انتخاب شي او هغه کاروونکي چې غواړي انټرنټ يې ډېر مصرف نشي، بايد ډېټا سېور انتخاب کړي.


### کوچني او منځني سوداګريز پورونه

عزيزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرايطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بيا ادايني قسطونه يې د يو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کيږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af | 1515

عزيزي بانک
Azizi Bank